Afghanistan Digital Library

adl0026

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn



This is a PDF version of an item in New York University's Afghanistan Digital Library (http://afghanistandl.nyu.edu/). For more information about this item, copy and paste the "handle" URL above into a web browser. When referring to or citing this item please use the "handle" URL and not this document or the URL from which you downloaded it.

All works presented on New York University's Afghanistan Digital Library website are, unless otherwise indicated, in the public domain. The images available on this website may be freely reproduced, distributed and transmitted by anyone for any purpose, commercial or non-commercial.

NYU Libraries, Digital Library Technical Services, dlts@nyu.edu

# نظامنامه

# د خرڅولو د سرکاري ملکونو

په (۳۰) د (سرطان) سنه ۱۳۰۶

په مطبعه د ‹‹ شرکت رفیق ›› کابل کښې چهاپ شویدے

شمار د چهاپ ـــــــــ (۲۰۰۰)

قیمت د یوی نسخې (۱۷) پولا

بسم الله الرحمن الرحيم

# نظامنامهٔ دِ خرخولو دِ سرکاري ملکونو

## اول فصل: تاعلق دی د خرڅولو د سرکاري مځکو

(۱): سرکاری ملکونه چه تکره تکره له یو جریب
ځمکه تر نیمه جریبه پوری بیل بیل دی په واسطه
د علاقه دارانو او قریه دارانو مجلس د علاقه داری په قسم
د لیلام د په نقله پیسه خرڅه شي.

(۲): هغه سرکاری ملکونه چه زیاد له نیمه
جریبه او په تصرف د دولت کښ دی
غیر له هغو مځکو چه د مهاجرینو په لاس

...په هغه اندازه
...کړي، اوله
...اری حق لښتي

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 4 of 20



کښ وی، او نور ملکونه چه په صورة د عمله
د عمری نور و خلقوته ورکړی شوی دی،
یا په قرار د رقمو او فرمانو د پادشاهی تحویلی
شوی وی) په قرار د منصفی د ښځوتنو د یا تلو ز
د کلی او د قریه د اینو د علاقه دار کښ په انصاف سره
جریب او قیمت کیږی - او سیاهه د هغه په مهر
او دستخط د هغو میرزانو په مدیریت یا ماموریت د
مالیه کښ ضبط او ساتله کیږی.
(۳) باعلان د خبر شولو د هغو ملکونو سره له معلومول
د قیمت او جریب د هغه ځای د مدیر یا مامور
مالیی له خوا په اجازه د حاکم د هغه ځای په واسطه
د هغې علاقه داری چه سرکاری مځکی علاقه
د دیه کښ وی - لپاره د خلقو د هغه کلی او نورو
کلیو اخیور او ویشل کیږی چه هر سړی
خواهش او خیال د اخستو د هغو ملکونو لری

اداره د مالیئی د هغه ځای ته دور شی او سم
له واتلنکی قاعد وسره خریداری د هغو ملکونو
د وکړی.

(٤):- هغه سړی چه خواهش د آخستو د سرکاری
ملکونو په نقدی پیسی یا څه نقدی او څه
پور باندی، په دا تفصیل سره چه لاندی.
راځی، وکړی.- د میزانو د قیمت له مخی په قیمت
کښ تخفیف ورکاوه شی.

الف:- که ټولی پیسی د قیمت د هغی نقدی ورکوی
لسمه برخه قیمت د هغی څخه کم آخستل کیږی

ب:- که نیمائی پیسی د قیمت د هغی نقدی او
نیمائی په ملاق د یو کال ورسوی، شلمه
برخه قیمت د هغی څخه کم آخستل کیږی

ج:- که دریمه برخه د قیمت د هغی نقدی او له
دوو څخه دوه برخه ئی په قسط د ۲ کلو ورسوی،

دیرشمه برخه د هغې ورته تخفیف ورکاوه

(۵):- که په قرار د (۴) مادې ځوك د دې ملکونو
آخستنکی نه وی، په قسط د پنځوکلو ترلسوکلو
پورې هر رازې چه حاکم او مدیر د مالئ
د هغه ځای مناسب ووینی خرڅ دکړی
او شرعی حجت د داخلی.

(۶):- رمبی د سرکاری ملکونه په خلقو د همغه کلی
خرڅیږی، که چیری استیلد ونکی د هغه
کلی خیال د آخستونه لری، یا بل ځوك
په قیمت او مقرری قسطونو د هغې کښ دو طلبی
او زیاد والی وکړی او خلق د هغه کلی ئی پرېږدی
تور وسړیو باندی خرڅیږی.

(۷):- هرکله یو سړی یوه محکه په نقدی پیسئ
یا څه نقدی او څه پور باندی خواهش د
آخستو وکړی، او بل سړی په همغه قسم

زیاد
حق د
د لوکښ
کړیو
اخلی
وکړی
سړه
او
چه
(۸):- د س
سړه
(۹):- هغه
ملت
دراش
د مال

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 7 of 20



زیاد والی وکړی ، په صورت د قبلولو کښ
حق د رهبنی آخستنکی دی او په وقت د پر ښبو
د لوکښ وروستنی آخستنکی ته ورکوله کیږی
که یو سړی یوه مځکه په نقدی پیسی بانډ طلبی
آخلی ، او بل ئی په قسم د پور سره وربانډی دو
وکړی ، بالکل خواهش د هغه چه په پور
سره ئی آخستنکی دی ، وا د نوریدل شی
او رهبی په هغو سړیو بانډی خرڅیږی
چه قیمت ئی نقد او په کم قسط رسوی.

(۸):- د سرکاری ملک یوه ټکره څو تنه په اتفاق
سره آخستای شی .

(۹):- هغه کس چه خواهش د آخستو د یوه ټکره
ملک وکړی ، خادحواواد اره د مالیئ د هغه حیثیته
دراشی او قرار داد دوکړی . د حاکم او د ملګ
د مالیئ له خوا نوم د آخستنکی او قیمت د ملک

تخفیف ورکاوه
د دی ملکونو
لو ترلسوکلو
یږ د مالیئ
ڼ د کړی
تو د همغه کلی
نکی د هغه
بابل څوك
غی کښ دو طلبی
ه کلی ئی پریږدی
لدی پیسئ
خواهش د
همغه قسم

او صورت د آخستلو د هغې د په واسطه د قریه
داری اعلان شی، تر مدّة دیوی میاشتی
که بل څوك دو طلبی وکړی ږمبی آخستنکی یا
بدلئ قبول کوی یا بدلئ پرېږدی - که په دی مدّ
کښ پلیپسی بل آخستنکی پیدا نشی، او پس له
هغه په هر څومره پیسه چه بل څوك اخستنکی
د هغې محکی شی، ورته نه ورکاوله کیږی او د
حاکم او د مدیر د مالیئ له خواخط د تصرّف
د محکی ورته ورکاوه او ملك د ده په تصرف
کښ کیږی .

(۱۰):- لپاره د خرڅاولو د سرکاری ملکونو په ولایتو
او حکومتیو کښ نائب الحکومګان او اعلی او
لوی حاکمان د اعلیحضرت پادشاهی له خوا
«وکیل بالتوکیل»، دی او دوی به له خپلو
خواخښه بل وکیل نیسی او شرعی قباله به آخستنکی

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 9 of 20



د سرکاری ملکوته ورکوی - حاکم او متدبر

د مالیې سیاهه د جریبي او قیمت د سرکاری

ملکونو چه په واسطه د میټرانو قیمت کیږی. تول

پس له تمامیدو د میټری او هرخومره ملکونو

چه خرڅیږی بیل بیل صورت د خرڅولو اونوم

د آخستنکی پلټنی به ئی اداره د هغه مستوفی

د ولایت یا اعلی حکومتی ته بیږی چه دی ورپوری

تعلق لری او همداسی مستوفیان او اعلی سررشته

داران به هم د هغه رپوت وزارت مالیه ته لیږی

(۱۱) ب- آخستنکی د سرکاری ملکونو د آخستو شی

څکی خیلی په قرار د دی لاندی شرطونو هرکله

چه وغواړی خرڅولای شی، او هرڅومره چه ئی زړه وکړی د خپل ځوکی-

الف:- که په نقدی پیسی سره ئی خرڅی کړی د

سرکار حق به یو ځای نقدی ورکوی.

ب:- که په قسط ئی خرڅی کړی د سرکار د حق به

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 10 of 20



ضامن ورکوی

ج:- که ضامن نشی ورکولای په هغه اندازه
چه پیسه ئې رسولی وی خرڅه دې کړی، او له
هغه څخه باقی تر رسولو د سرکاری حق لمنشی
خرڅولای.

نظامنامه

اول فص

(۱):- سرکاری

څخه ترنې

د علاقه دارلواو

د لیلام

(۲):- هغه س

حریبه

غیرله هغ

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 11 of 20



## (دویم فصل په باب د هغو)

### ملکونو چه مهاجروا و نورو خلقو په لاس کښی وی

(۱۲):- هغه سرکاری ملکونه چه مهاجرو او ناقلینو ته [چه له یو ځای نه بل ځای کښی استوګنه اختیار کړی] ورکړی شوی وی یا پس له دینه ورکول کیږی، په قرار د پلوان شریک د له هغو نه مالیه واخسته شی.

(۱۳):- هغه ملکونه چه مهاجرو ته ورکړی شویوی یا ورکاول کیږی په قسم د ملکیت دی، که یو له دوی څخه مړشی د غه ملکونه د هغو ورثی ته ورکول کیږی - که چیری دوی تر شلو کلو پوری پلیسی په خاوره د افغانستان کښی استوګنه وکړی، د غه ملکونه چه د دوی په لاس کښی وی

خرخولای ئي شي.

(۱۴):- که مهاجران او ناقابلين لاړ شي، هغه ځمکې چه دوی ته ورکړې شويدي بيرته د دولت تصرف ته راشي - او بل څوك په ځمکو د مهاجرانو او ناقابلينو کښ تصرف نشي کولای.

(۱۵):- هغه ځمکې چه په قرار د رقم او فرمانو د پخوانيو پادشاهانو، خلقو ته په قسم د بخښل او ملکيت ورکړې شوي دي او په تصرف کښ د دوی دي، بيرته نه آخستلې کيږي، او له قيده د دفترو د خالصي او د ضبطي ځنې د وو ايستلې شي، مګر ماليه د دی د سم له پلوان شريك سره په اداره د ماليې کښ دولت ته ورکړي.

(۱۶):- بيا ره د هغو نفريو چه د اعليحضرت له خواځنې ځمکې په قسم د بخښل ورکړي

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 13 of 20



شوي وي ، د دوي خپل مالك وي ، او
داسې شان ملکونه د له قیده د د [فارغ]
د خالصې او د ضبطي څخه وویستل شي او
مالیه د دو د په اداره د مالیې کښې داخل
او واخستله شي .

(۱۷):- هغه ملکو نو چه خلقو د یوه کلي یا یوازي
یوه یوه سړي په قسم د عمري له دولت
څخه آخستي وي ، د دوي له لاسه نه ویستل
کیږي ، مګر د دي جمع د د پلوان شریك له
مالیې سره نسبت وډکړ شي که په جمع کښې کته
د دولت وي ، له محې د جمع ، او کړنه له قراره د ما [لیه]
د پلوان شریك محصول د دي د په دفتر کښې [خلاف]
واخست شي !

(۱۸):- که بعضې سړیو خرابه او ناکره ملکونه آباد
او جوړ کړیوي یا پس له دینه ئې جوړ کړي

و کښې له نورو
ې تر نژدې وي
حضرت څخه ملګو
لې څخکې د دوي
ـکلو پوري
ان شریك
ښې پوره او سم
ي !
شوي سرکاري
کښې و نه وسو
سره له دوه
د دوي څخه ا
ه په قسم د خپلو

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 14 of 20



مالیه د هغو همره چه پخواله دینه بست
شوی دی پر همغی انداذه ، او هرڅه چه نوی
آبادی کړی د حاصل له مخی هرڅومره چه
حاکم د وقت بست وتړی ، پس له لیدلو د
مجلس د مشوری د هغه ځای د ودکړی،
داسی ملکونه بیرته نه آخستل شی، دا
ملکونه هرچاچه آباد کړی دی حق د
ملکیّت د هغو لزی!

(۱۹):- ملکونه د خالصی د رعیّتی چه په منځ د
خلقو کښی آخستل او خرڅول لږی او د دوی
قباله د هغو لزی په جمله د سرکاری ملکو نو کښی نشمیرل
کیږی او په خرڅولو کښی نه واخلی.

(۲۰):- هغه کسان چه په واسطه د مجرمیت او گناه،
د حکومت له خوا فراری توپ ځنی معافیږی،
که په وقت د فرار یدلو ځمکی د دوی په قید وضبط

کښ داخلی وی او د اضبطی په سبب د باقی دهی
د دولت نه وی له یوه جریب څخه (۷) ترووه جریبه
پوری مځکی د دوی چه په ضبط د دولت کښ
وی په قرار د حکمنامی د نائب الحکومګانو او اعلی
حاکمانو د دوی له وه بیرته ورکاوی،
او له قیده د ضبطی څخه ویستلی او مالیه د هغی
دیه دفتر کښ داخل کړی.
(۲۱): هغه ملکونه چه له جملهٔ د سرکاری مځکو څخه وی او خلقو
عمری په عهده آخستی دی، او په سبب د باقی
دهی او خیانت دولت ضبط کړی نه وی، او
په قرار د نور وماده د نظامنامی د خرخولو د مځکو
دارائی ملکونو په جمله د خرڅشویو مځکو کښ
راشی یا په همدی دوه دروکلو د سلطنت د
اعلیحضرت د پادشاهی کښ ددی د څښتن له
لاس او تصرف څخه ویستلی او خرڅ شوی، یا چاته

دینه لیست
رڅه چه نوی
رخومره چه
له لیدلو د
د ودکړی،
شی، دا
وی حق د
په منځ د
لری او دوی
ملکونو کښ نشیدل
بیت او ګناه،
څخه معافیږی،
په قید د ضبط

شوی د
داسی
دخالص
مالیه
او واخ
(۱۷):- هغه د
نوه نو
تخه اخ
کېږ
مالیې
د دولت
دپلوان
واخس
(۱۸):- که بعض
او جو



بخښلي شوي دي - په عوض د هغو کښې له نورو سرکاري محصولو څخه چه د الخلکو ته نژدي دي هغوته ورکوله کېږي.

(۲۲):- هغو کسانو ته چه له حضوره د اعلیحضرت څخه ملکو ځمکه او ورکاول کېږي یا ضبطي ځمکي د دوی بیرته ورکولی کېږي تر دوه کلو پوري د دوی مالیه رعایتاً نیمائي د پلوان شریک واخسته شي او په دریم کال کښي پوره او سم له پلوان شریک سره دوړ کړي!

(۲۳):- هغه کسان چه قسط د آخستي شوي سرکاري ملکونو خپل په مقرري وعده کښې ورنه رسوي هغه پاتي شوي پیسه د قسطونو سره له دوه خیسته روپۍ په تومن باندې جرمانه له دوي څخه اخیسته او په خزانه کښي تحویلیږي!

(۲٤):- هغه ځمکي چه ورثي د شهیدانو ته په قسم د بخښلو

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 17 of 20



سره ورکړي شوي دي تر وقته د لوئيدلو
د دوي، وصي د هغو مځکي د دوي نشي خرڅولاے
پس له غتيدو د هغه پخپله دوي په خرڅولو د مځکو
خپلو کښي اجازه لري .

(۲۵):- هغه ملکونه يا سرکاري شيان چه د حکومت
له خوا خرڅ يا ليلام کيږي۔ ضرور دي
چه منسوبه دائره د هغه اعلان د دي د خرڅولو
په ولايت د کابل ړمبي په وزارتو او مستقله دائرے
او نورو دائروته لپاره د خبريدل د کاردارانو
وليږي، بو سيره په دا باندي ترشا د اعلان
له وکيلانو د مجلس مشوره د ولايت څخه
په خط د باخبري او پوهيدلو آخلي۔ او لپاره
د باخبري او پوهيدلو د خلق دا اعلانونه
د رياست بلديه له خوا مخصوصي ځايو کښي
ځوړند، او پس له تيريدلو د مقرري وعدے

http://hdl.handle.net/2333.1/msbcc2nn Image 18 of 20



به خرڅیږي، په نورو ولایتو او اعلی حکومتو
کښ پس له اطلاع او باخبري د دائرو د حکومتي
د هغه ځای سم له دي پاس بیلي بیلي بیان
شوي قاعدو سره اجراء کیږي!
په اجراء د حکمو د ماده، د دي نظامنامي
د وزارة مالیه مسئول او مکلف دي!

(د
ملکو
(۱۲):- هغه
[چه له
کړ
کیږي
واخس
(۱۳):- هغه
ورکار
څخه
کیږ
پلیسي
وکړي

دخ

پر (۳۰)

په مطبع

شمارد چها